مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان الله ارینزی ۲۰۲۱/۱۲/۲۰

# د اسلامي همکارۍ ټولنه

## (OIC)

## (Organization for Islamic Conference)

په اسلامي ځمکو او هېوادونو کې، د 19 پېړۍ له دوهمې نیمايي څخه د ویښتیا او خوځیدا یوه څپه راغله چې مذهبي ایدیالوژي پرې زوروره وه. ښکاره خبره ده چې هغه وخت په لویدیځ کې اقتصادي او تکنالوژیکي پرمختګونو، اسلامي هېوادونه له راز – راز ستونزو سره مخامخ کړل او د دوي پخواني برم ته یې د پای ټکی کېښود.

د کال 1967 د هغه 6 ورځني جګړې په پای کې، چې عربي هېوادونو پکې ماته وخوړه، عربي دولتونه دې ته اړ شول چې د خپلو خلکو د احساساتو د قابو کولو له پاره، د اسلامي کنفرانس جوړېدو ته متې ونغاړي. د کنفرانس د جوړېدو له پاره د سعودي ، مصر (جمال عدالناصر) او ایران جلا – جلا تګلارو او دریځونو په کارونو کې لږ ځنډ او خنډ پېښ کړ؛ خو په کال 1969 کې، په الاقصی جومات باندې د اسراییلو برید، سعودي ته لار اواره کړه چې د صهیونیزم په ضد، د مسلمانانو له احساساتو څخه ګټه پورته او د اسلامي کنفرانس د جوړولو نوښت په لاس کې واخلي.

په هغه غونډه کې چې د همدې کال د سپتمبر په 25، په رباط (مراکش) کې د اسلامي هېوادونو د مشرانو په ګډون جوړه شوه، په درېو خبرو بحث وشو: په الاقصی جومات برید چې یو وخت د مسالمانانو لومړنی قبله وه، د اسراییلو له خوا د عربي ځمکو نیول او د بیت المقدس ښارګوټی ځرنګوالی. غونډې په عین وخت کې د اسلامي هېوادونو کنفرانس بنسټ هم کېښود .

د دی ټولنی نوم په لومړی سر کی د اسلامی هیوادونو کنفرانس و؛ خو په کال ۲۰۱۱ کی د اسلامی همکاری ټولنه شوه او جده یی د پلازمینی په توګه وټاکل شوه

**اهداف:**

OIC د دې له پاره جوړ شو چې د اسلامي هېوادونو تر منځ هر اړخیزه همکاري پیاوړې کړي، بیت المقدس خوندي کړي او د فلسطین او نورو اسلامي هېوادونو د خپلواکۍ او برم ساتلو ته پام وساتی:

- د اسلامي هېوادونو د غړ اوچتول او د ګټو ساتنه او د دې هېوادونو تر منځ ورورولئ، همغږي او پیوستون او په اقتصادي، ټولنیزو او علمي برخو کې د اسلامي هېوادونو همکاري،
- د هر راز نژادي تبعیض او استعمار په ضد مبارزه او د هر راز قانوني کړنو ملاتړ،
- د نړیوالي سولي او امنیت د ټینګښت له پاره هڅې،
- د اسلامي سپېڅلو ځایونو د ساتنې له پاره ګډې هڅې،
- د اسلامي هېوادونو په مخکې د پرتو ستونزو د له منځه وړلو له پاره کار او د فلسطینیانو د حقونو او خپلواکۍ ملاتړ،
- د یو بل خپلواکي ته درناوی، د نورو په کورنیو چارو کې نه لاسوهنه او د اسلامي هېوادونو د ځمکنې بشپړتیا خوندیتوب،



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

- د OIC د عامه ګټو د ساتلو له پاره، په نړیوالو سیاسي، اقتصادي او ټولنیزه پرېکړو کې د اسلامي هېوادونو د ونډې او برخې کلک ملاتړ،
- د ملګرو ملتونو له کړنلارو او نړیوالو قوانینو سره سم، د خلکو د حقوقو په ساتلو ټینګار،
- د اسلامي ګډ سوداګریز مارکیټ د جوړولو له پاره، د اسلامي هېوادونو د خپلمنځي اقتصاد او سوداګرۍ پراختیا او غښتلي کول،
- د OIC د هر اړخیز او تلپاته بشري پرمختګ له پاره هلې ځلې،
- له رښتیني اسلامي دین څخه دفاع او د مذاهبو او تمدنونو د ډیالوګ د هڅونې له پاره، له دین څخه د ناوړو تعابیرو په ضد مبارزه،
- په OIC هېوادونو کې د ساینس او تکنالوژۍ د خورولو هڅې،

د OIC په کړنلاره کې راغلي چې غړي هېوادونه، دې اهدافو ته د رسېدو له پاره باید خپل کارونه داسې تنظیم کړي:
- باید د ملګرو ملتونو کړنلارې ته ژمن وي،
- باید د حقوقو او وجایبو له پلوه خپلواک او برابر وي،
- باید خپلمنځي ستونزې د خبرو له لارې پای ته ورسوي او د زور له کارولو څخه ډډه وکړي،
- یو د بل ملي حاکمیت، سیاسي خپلواکي او ځمکنۍ بشپړتیا ته درناوی وساتي او یو د بل په کورنیو چارو کې لاس ونه وهي،
- باید په ملي او نړیوالو برخو کې، د اغیزمنې حکومتولۍ، ولسواکۍ ، بشري حقونو، د قانون د واکمنۍ او پرمختګ ملاتړي وي او د همدې له پاره کار وکړي.

**جوړښت:**

1 – سرمشریزه: د اسلامي هېوادونو د مشرانو غونډه چې هر درې کاله وروسته یو ځل، او یا د اسلامي نړۍ د اقتصادي مصالحو په غوښتنه، په ځانګړې توګه، د یو غړي هېواد په پلازمینه کې جوړېږي. په دې غونډو کې په هغه نړیوالو بدلونونو بحث کېږي چې د اسلامي هېوادونو په ګټو اغېز ولري.

**OIC له جوړېدو څخه تر 2020، پورې دا سرمشریزې جوړې شوې دي:**

رباط 1969، لاهور 1974، طایف 1981، کازابلانکا 1984، کویټ 1987، ډاکه 1991، کازابلانکا 1994، تهران 1997، دوحه 2000، دوحه 2003، کوالالامپور 2003، مکه 2005، داکار 2008، مکه 2012 ، قاهره 2013 ( چې د سیاسی بدلونونو په توسن وځنډېد) او استانبول 2017

2 – د بهرنیو چارو د وزیرانو کنفرانس: د OIC د بهرنیو چارو وزیران په کال کې یو ځل؛ خو د اړتیا په وخت کې څو ځلې غونډې جوړوي. په لومړنیو عادي غونډو کې، د بهرنیو چارو وزیران، هر کال د ولسمشرانو د سیاسي تګلارو په رڼا کې، پرېکړې کوي او سرمنشي او دارالانشا ته دندې سپاري. دا وزیران کولای شي چې په نړیوالو چارو کې د خپلو دولتونو د غوره دریځ او د ملګرو ملتونو د عمومي ټولنې د غونډو د اجنډا د څېړلو له پاره هم، همغه په نیویارک کې سره ووینې او ځانګړې غونډې جوړې کړي.

3 – دارالانشا: دارالانشا یو سرمنشي، څلور مرستیالانه او یو شمېر کارکوونکي لري. دارالانشا د OIC اداري چارې مخ ته وړي . د OIC سرمنشي د ټولو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو له خوا د رایو په اکثریت ټاکل کېږي، 4 کاله کار کوي او یو ځلې بیا هم ټاکل کېدای شي. د سرمنشي څلور مرستیالانه په سیاسي، فرهنګي، مالي او اداري څانګو کې، د سرمنشي په وړاندیز ، د OIC د بهرنیو چارو وزیرانو له خوا د یو ځل له پاره ټاکل کېږي. دارالانشا د هغه پرېکړو د عملي کولو مسوولیت په غاړه لري چې په سرمشریزو یا د بهرنیو چارو وزیرانو په غونډو کې شوې وي.

**د OIC سرمنشي 4 دنده لري چې:**

- د OIC د سرمشریزو، د بهرنیو چارو یا نورو وزیرانو غونډې جوړې کړي، وړاندیزونه برابر کاندي او پرېکړو عملي کړي او د OIC کارونه همغږي کړي،

- د OIC بودجې جوړه کړي، منظوري واخلي او لګښتونه تنظیم کړي،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

· د OIC د غړو هېوادونو تر منځ اړيکي ټينګي او پياوړي کړي او د سلا مشوره لاري اواري کړي،

· غړو هېوادونو ته د OIC په هکله معلومات او اطلاعات ورسوي او د هغوی وړانديزونه وګوري او وارزوي.

**د OIC له جوړېدو څخه را پديخوا، لاندې کسانو د دې ټولني د سرمنشي په توګه کار کړی:**

1971-1973 – ، تانګو عبدالرحمن د ماليزيا، 1974 – 1975، حسن التهامي د مصر، 1975 – 1979، داکتر عمادو کريم ګاى د سنيګال، 1979 – 1984، حبيب چاتی د تونس، 1985 – 1988، سيد شريف الدين پيرزاده د پاکستان، 1989 – 1996، داکتر حميد الکابيد د نايجير، 1997 – 2000، داکتر عزيزالدين لاراکي د مراکش، 2000 – 2004، داکتر عبدالوحيد بيلکيزيز د مراکش، 2005 -2014 ، داکتر اکمال الدين احسان اوغلو د ترکيې، 2014–، 2016 اياد بن امين مدانی؛ 2016—2020، يوسف الوطيمين؛ 2020 تر اوسه، حسين براهيم طحا د چاد.

4 – نړيواله اسلامي محکمه: دا محکمه په کال 1987 کې د OIC په پنځمه سرمشريزه غونډه کې جوړه شوه. په هغه غونډه کې د OIC د کړنلارې دريمه ماده داسې بدله شوه چې نړيواله محکمه د دې ټولني د څلورم ارګان په توګه ومنل شوه. دا محکمه ۷ قاضيان لری چې د اسلامی هيادونو د بهرنيو چارو وزيرانو له خوا د څلورو کلونو د پاره ټاکل کيږی او دنده لری چې د دی ټولنی د د اساسنامی له مخی پريکړی وکړی. دا محکمه تر اوسه پوری په اساسنامه کی د د متضادو موادو د شتون په توسن نه ده جوړه شوی.

د سوداګرئ د پراختيا اسلامي مرکز (مراکش)؛ د اسلامي تاريخ، -- فرعی څانګی:5
کلتور او هنرونو د مطالعې او څېړنې مرکز(ترکيه) او د تکنالوژئ او علومو
اسلامي موسسه (بنګله ديش).
-- کميټی: دا کميټی د سرمشريزو او د بهرنيو چارو وزيرانو د پريکړو 6
د عملی کولو د پاره جوړی شوی ، چې په دريو برخو ويشل کيږی: دايمی،
لنډمهاله او ځانګړی.
دايمی کميټی: د اطلاعاتی او فرهنګی ګډ کار کميټه (سنيګال)، د بيت المقدس کميټه
(مراکش)، د اقتصادی او سوداګريز ګډ کار او مرستو کميټه (ترکيه) او د علمی او
تکنالوژيکی ګډ کار او مرستو کميټه (پاکستان)، چې ټولی د دی ټولنی د اساسنامی له مخی
جوړی شوی دی.
لنډمهاله کميټی: چې د بهرنيو چارو وزيرانو له خوا جوړيږی. لکه د جنوبی
افريقا او ناميبيا کميټه او د صحرا د خلکو سره د اسلامی پيوستون کميټه، چې د
کار د خلاصون وروسته بيرته ړنګيږی
ځانګړی کميټی: لکه د افغانستان کميټه او د فلسطين کميټه.

–تخصصي څانګي: دا څانګه پنځه تخصصی کميټی لری: اسلامي پراختيا بانک (جده)؛ علمي، فرهنګي او روزنيزه اسلامي ټولنه ( جده) ، د نړيوالو اسلامي خبري اژانسونو ټولنه( جده)، د اسلامی دولتونو خبری اژانس او د نړيوالی سری مياشتی اسلامی کميټه. اسلامی پراختيا بانک د دی ټولنی يو تخصصی بنسټ دی چې ۵ بليون دالر پانګه لری.

وړې څانګې: چې د اسلامی هيوادونو تر مينځ د ګډ کار او مرستو، د ديريدو له پاره --
جوړيږی، لکه د اسلامي پلازمېنو او ښارونو ټولنه، د اسلامي بانکونو
نړيواله ټولنه، د سوداګرئ او صنايعو نړيواله خونه، د اسلامی پيوستون فدراسيون،
د اسلامی او عربی ښوونځيو نړيوال فدراسيون، د ځوانانو ټولنه، اسلامی هيوادونو
ته د مشاورينو فدراسيون؛ د اسلامی علونو نړيواله اکاډمی، د اسلامی هيوادونو د
ستندردونو جوړولو او مترولوژی انستيتوت؛ د ماليزيا، نايجير او يوګندا
پوهنتونونه او داسی نور.
دا کنفرانس له ملګرو ملتونو وروسته د نړئ تر ټولو لوی بين الحکومتی جوړښت دی چې ۶ تخصصی بنسټونه، ۱۸ ترلی ارګانونه، ۴ پوهنتونونه او ۶ دايمی استازولی لری او په ټولو هغه برخو کی کار کوی چې د افغانستان غوندی جنګ ځپلی او وروسته پاته هيوادونه ورته اړتيا لری.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

**افغانستان او د اسلامی همکارئ ټولنه:** افغانستان له همغه لومړی پیله د دی ټولنی غړی هیواد دی.. دا ټولنه په لومړی سر کی ډیره په سیاسی چارو لګیا وه؛ خو د وخت په تیریدو سره اقتصاد، ټولنه، فرهنګ، بشری حقونه، له بنسټ پالنی او ترهګذی سره مبارزه، بشری چاری او له اسلام څخه د ویری مخنیوی هم د دی ټولنی په کارونو کی راغلل.

د کال ۱۹۸۱- ۱۹۲۲ تر مینځ د شوروی یرغل په توسن، په دی ټولنه کی د افغانستان غړیتوب و ځنډول شو. دا غړیتوب په ۱۹۹۲ کی بیرته اعاده شو. په کال ۲۰۱۱ کی پریکړه وشوه چی د افغانستان غړیتوب له دایمی استازیتوب څخه سفارت ته جګ شی. د کال ۲۰۲۱ د دسمیر په ۱۹ دی ټولنی د افغانستان د وضعیت د څیړلو د پاره، د سعودی به غوښتنه په اسلام اباد کی د بهرنیو چارو وزیرانو غونده جوړه کړه چی عواقب او نتایج به یی وروسته معلومیږی. که افغانستان د سم لابی ظرفیت ومومی؛ نو د خپلو اوږدمهاله ستونزو او کړاوونو د پای ته زسولو د پاره، د اسلامی همکاری ټولنی له بالقوه او بالمثل مرستو څخه ګټه ترلاسه کولای شی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ